# هېڅوک باید له درې لوټو نه په کمو ځان وچ نه کړي

له سلمان رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: مشرکینو مونږ ته وویل چې: زه ستاسې ملګری وینم چې تاسو ته حتی د قضای حاجت زده کړه درکوي، هغه وویل: هو همداسې ده هغه موږ منع کړي یو چې زمونږ څخه دې یو تن په ښي لاس استنجا وکړي، یا دا چې د حاجت پر مهال قبلې ته مخ کړي، او لدې یې منع کړې چې یو څوک ځان په خوشایي او هډوکي پاک کړي او فرمایلي یې دي چې: «هېڅوک باید له درې لوټو نه په کمو ځان وچ نه کړي».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

سلمان فارسي رضي الله عنه ویلي چې: مشرکانو به موږ ته په ریشخند سره ویل: ستاسو نبي تاسو ته هر شی ښودلی دی، تر دې چې څنګه د تشو او ډکو متیازو پر مهال حاجت رفع کړئ! سلمان وویل: هو، مونږ ته یې د قضای حاجت آداب ښوولي؛ لدې څخه یو دا دی چې هغه صلی الله علیه وسلم مونږ له دې منع کړي یو چې له قضای حاجت نه وروسته په ښي لاس سره ځان پاک کړو ترڅو له نجاست څخه وساتل شو او د لاس درناوی وساتل شي، یا دا چې کعبې لور ته د تشو او ډکو متیازو پر مهال مخ کړو، او لدې یې منع فرمایلې ده چې څوک د ځارویو په خوشایو، فاضله موادو او هډوکو ځان وچ کړي، او دا چې حاجت رفع کوونکی په ځان پاکوونه کې له دریو کاڼو په کمو بسنه ونه کړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10048